مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سلطان جان کلیوال

۲۰۲۰/۰۲/۱۸

# هوښیار شئ

د جنګ خبرې پریدې د ورورۍ خبرې وکړی
نړی کی د اولاد د مزدورۍ خبرې وکړی

عزت نشئ میندلی په خپل منځ کی په جګړو
درکړې چی جګړو ده د خوارۍ خبرې وکړې

را لیږې هره ورځ چی درته نوی نوی غم
د هغــه همسـایه د غدارۍ خبرې وکـړی

پرون خو په ملا مات شو یوښامار د زماني
نن بیا د بل ښامار د مکارۍ خبرې وکړی

نورڅه دی چی په ویش یی لاروانه ده جګړه
یو ځل خوددی ولس د ناچارۍ خبرې وکړی

هوښـیار شی کلیـوالو نفـرت نه لری انجــام
نورڅه کوئ، د ځان د بیکارۍ خبرې وکړی

می/۲۰۰۷
انتاریو ـ کانادا



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ